بېشكه فتنې به راشي، خبر اوسئ! بيا به داسې فتنې راشي چې ناست به پکې له روان څخه غوره وي، او روان به پکې له منډه وهوونکي څخه غوره وي چې منډې وروهي،

له عثمان الشحام څخه روايت دی: زه او فرقَد السبخي مسلم بن أبي بكره ته ورغلو، حال دا چې هغه په خپله ځمکه کې و، مور ورننووتو او ورته مو وويل: آيا تا له خپل پلار څخه د فتنو په اړه کوم حديث اوريدلی؟ ويې ويل: هو، ما له ابوبكرة رضي الله عنه څخه اوريدلي، هغه روايت کاوه، ويې ويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «بېشكه فتنې به راشي، خبر اوسئ! بيا به داسې فتنې راشي چې ناست به پکې له روان څخه غوره وي، او روان به پکې له منډه وهوونکي څخه غوره وي چې منډې وروهي، خبر اوسئ! کله چې دا فتنه راکښته يا واقع شي، نو څوک چې اوښان ولري، نو د خپلو اوښانو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې پسونه ولري، نو د خپلو پسونو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې ځمکه ولري، نو د خپلې ځمکې خوا ته دې لاړ شي، يو سړي وويل: اې د الله رسوله! که څوک نه اوښان ولري، نه پسونه او نه ځمکه، نو څه به کوي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خپله توره دې واخلي، او د هغې تېغ دې په ډبره وټکوي، بيا دې ځان وژغوري که د ژغورنې توان يې درلوده، بيا يې درې ځلې وويل: اې الله! آيا ما پېغام ورساوه؟ اې الله! آيا ما پېغام ورساوه؟ اې الله! آيا ما پيغام ورساوه؟ بيا يو سړي وويل: اې د الله رسوله! که زه مجبور کړای شم، تر دې چې يو صف يا يوې ډلې ته بوتللی شم، او يو سړی ما په توره ووهي، يا يو غشی راشي او زه پرې ووژل شم؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه به د خپلې ګناه او ستا د ګناه بار واخلي، او له دوزخيانو څخه به شي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

عثمان الشحام او فرقد السبخي له مسلم بن أبي بكرة رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې: آيا له خپل پلار څخه دې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه داسې کوم حديث اوريدلی چې د مسلمانانو ترمنځ د فتنو او جګړو په اړه وي؟ هغه وويل: هو، رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی، چې له ده وروسته به فتنې راشي، او په دغو فتنو کې به ناست، غافل کس چې فتنو کې لاسوهنه نه کوي له هغه کس څخه غوره وي چې پکې روان وي، او روان کس به له هغه کس څخه غوره وي چې فتنو ته ځان مخکې مخکې کوي او برخه پکې اخلي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه چا ته لارښوونه وکړه چې که فتنه د هغه په زمانه کې راښکته شي يا واقع شي، او ده ته کوم پناه ځای موجود وي، نو هلته دې ولاړ شي؛ نو څوک چې اوښان لري چې څري، نو د خپلو اوښانو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې پسونه لري او څري، نو د خپلو پسونو خوا ته دې لاړ شي، او څوک چې ځمکه او کرونده لري، نو د خپلې ځمکې خوا ته دې لاړ شي. يوه سړي وويل: اې د الله رسوله! ته د هغه کس په اړه څه وايي چې نه اوښان لري، نه پسونه او نه ځمکه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه دې خپله وسله (توره) واخلي، ماته دې يې کړي او خرابه دې کړي، بيا دې وتښتي او خپل ځان او اولاد دې وژغوري که د ژغورنې توان ولري. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ځلي شاهدي ورکړه او ويې فرمايل: اې الله! آيا ما پيغام ورساوه؟ اې الله! آيا ما پيغام ورساوه؟ اې الله! آيا ما پيغام ورساوه؟ نو يوه سړي وويل: اې د الله رسوله! ته څه وايې که زه مجبور کړای شم چې له يوه صف يا يوې ډلې سره ګډون وکړم، بيا يو سړی ما په توره ووهي، يا يو غشی راشي او ما ووژني؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه به د خپلې ګناه او د هغه کس د ګناه بار واخلي چې هغه يې وژلی، او د قيامت په ورځ به د دوزخ له خلکو څخه وي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee